مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۲/۱۲/۲۶

# پاڅون

«د افغانژغورني د فرهنګي نهضت» لپاره د هڅو په څنډه کې یوه پېیلې:

پنجرې دي ړنګې شوې
دروازې په چیغو سر دي
او راځي له هره بامه
شور ماشور د قیامت:
بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَت؟!

د پاولیو غوسه اور شوه
د بنګړو شور خونړی شو
لوپټه شوه هسک بیرغ د بغاوت،
بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَت؟!

د وړیو بوی لګیږي
د تېغونو لیوان ترپي
رانده ـ ګوډ خره دي ورلاندې
بار پرې باب د جنابت
بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَت؟!

بند په بند یې ورګوزار کړل
د ځابېتونو تور بندونه
ژېړ یې رنګ په کورکمند
غوړ خیرن د خوګ په وازده
دا دي بند، هاغه دې بند
په کتاب کې"ب" بندي ده
"ج" "الف" پورې ځوړند
سپین دېدی پاچ یې ور ړنګ کړ
په ګوزار د سپین مروند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دا جګړه پاېزېب ګټلې
شیخ څیرلی کمربند
اوښ یې چو دی د ځېلونو
ځي په لور د سمرقند
په خورجین کې یې بار کړي
ژېړې پاڼې خړ پوښونه
هاخوا یو کدو نصوار دي
څه سامان د حجامت
ورالوتی څاڅکی څاڅکی
بیا معصوم شان بکارت
د څلورو پېغلکیو
په سرو وینو کې لت پت
نو:
بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَت؟!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ